DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي هيلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۸۶
شماره مسلسل ۹۵۳
پنج شنبه ۱۸ حوت ۱۳۸۴ هـ ش
۸صفر المظفر ۱۴۲۷ هـ ق
9 March, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

ولسي جرګې

په ولایتو کې د پاسپورټونو دورګړې پریکړه وکړه



په هیواد کې ولسي جرګې پریکړه کړې چې له دې نه وروسته دې په ټولو ولایتونو کې اړمنو کسانو ته افغاني پاسپورټونه ورکړل شي دولسي جرګې غړو پر دغې موضوع دبحث په ترڅ کې وویل چې دا مهال د پاسپورټ په ترلاسه کولو کې خلك له ډیرو ستونزو سره مخامخ دی د کورنیو چارو وزارت څخه یې غوښتنه وکړه چې ددغې ستونزې دیوې برخې د آسانتیا برابره کړی چې هر چاته په خپل اړوند ولایت کې پاسپورټ ترلاسه کړی شي اوس مهال یوازې په څو لویو ولایتونو کې خلکو ته افغاني پاسپورټونه ویشل کیږي

د هیواد بودجه به ملی شورا ته وړاندې شي

دهیواد د حکومت کلنی عادی او پراختیایی بودجه به چې ۱۰۳ میلیارده افغانی حساب شوی دتصویب لپاره ملی شورا ته وړاندې شي د حکومت کلنی بودجه وزیرانو شورا تایید کړې ده.

دمالیې دوزارت معین وحید الله شهرانی د پژواك خبری آژانس ته ویلی دی چې له حساب شوی ۱۰۳ میلیاردو افغانیو نه ۶۳ میلیارده دانکشافی بودجې او تقریباً ۴۰ میلیارده عادی بودجې ته تاکل شوی دی د حکومت د نوی کال بودجه به دملی شورا له تصویب وروسته رسماً اعلان شي.

له ولسي جرګې څخه بېخوانیو افسرانو غوښتنه

ددفاع وزارت یو شمیر پخوانیو افسرانو دخپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره پرون یو ځل بیا لاریون وکړ په لس ګونو دغه افسران چې دپارلمان د دوانی مخې ته ټول شوی وو له ولسي جرګې څخه یې غوښتنه وکړه چې دهغوی دستونزو دآواری لپاره ګام پورته کړی.

۴مخ

دوباب مکتب به آتش کشیده شد

در نتیجه درگیری که دیشب میان گروه طالبان و پولیس ولسوالی گیهزاب ولایت دایکندی رخداد ساختمان آن ولسوالی و یک مکتب به آتش کشیده شدند قرار گزارش های موجود این در گیری تلفات جانی نداشت.

در جریان سال روان این چندین حادثه به آتش کشیدن مکاتب در سراسر کشور است

ص۴

دملګرو ملتونو د سرمنشی څوکې ته پنځه تنه کاندید دی

د کابل پوهنتون رئیس داکتر اشرف غنی احمد زی لومړنی افغان دی چې دملګرو ملتونو دسرمنشی د څوکی لپاره خپل ځان کاندیدوی کوفی عنان چې اوس مهال ددغه څوکی مسولیت پر غاړه لري ۴ مخ

په مطبوعاتی چاروکې دولسمشر د سلاکار تاکل

ورمه ورځ د یوه ځانګړی فرمان په ترڅ کې عبدالکریم خرم چې په مطبوعاتو او سیاسی چارو کې ښه تجربه او لاس لري د ولسمشر دسلاکار په توګه وتاکل شو.

عبدالکریم خرم دهیواد په مطبوعاتو او سیاسی تحلیلونو کې ځانګړی نوم لري په دې برخه کې یې دښو خدمتونو تمه کیدای شي.

کمپاین وسیع به منظور تخریب کشت کوکنار

یک گروه مبارزه با مواد مخدر دیروز کمپاین وسیع را برای تخریب کشتزار های کوکنار در جنوب کشور آغاز کرد این گروه که از سوی نزدیک به یک هزار نیروی پولیس و اردوی ملی حمایت میشد

ص۴

خواستار جلوگیری از ورود هراس افگنان

شوکت عزیز صدراعظم پاکستان میگوید که دولت افغانستان باید کوشش های بیشتری به خرچ دهد تا از قاچاق مواد مخدر ورود اسلحه و عناصر هراس افگن به پاکستان جلو گیری نماید. وی به این باور است که هماهنگی وهمکاری میان دولت افغانستان وپاکستان در مرز هایگانه راه حل معضله است.

ص۴

تسلیمدهی سلاح ومهمات

به ادامه تسلیمدهی سلاح و مهمات به برنامه دایاک در کشور رهفته گذشته مقداری از سلاح ومهمات که شامل ۹ میل اسلحه مختلف النوع، ۹۰ فیر مرمی هاوان، ۶۶ عدد سرګلوله هاوان ۸۲ ملی متری، ۴۰ عدد ماین.

ص۴

افغانستان: تضاد تحرک اجتماعی وایستایی حاکمیت

ص۲

لانجیي لست: پاکستان ربښتیا وایي؟

مخ

ژباړه: سرمقاله

غیر مسلکی اشخاص خو لاځه چې تقاعد شوی اشخاص هم په کارونو ګمارل شوی!!!

دنړۍ په هره ټولنه کې چې خپل قانون ته درناوی ولري او تطبیق ته یې وړاندې کړی وی نه یوازې دا چې ددولتی کارکوونکو مسوولیتونه، حقوق دکارکوونکو توانایی اود کار کولو لپاره تاکلی وخت په پام کې نیول کیږي بلکې دولتی کار کوونکو مسلك، پوهه او تعلیم هم له نظر نه اچوی.

خو له بده مرغه چې زمونږ په ټولنه کې په وروستیو لسیزو کې ان تر اوسه پورې پورتنی ټولې خواوی له پامه غورځول شوې په ارتباطاتو او تمایلاتو تاکنو د فساد، بډو، اختلاس او دکارونو د وروسته پاتې والی لپاره زمینه برابره کړیده په اکثره دولتی ادارو کې مسلکی، پوه، تحصیل یافته دکار او استعداد او توانایی درلودونکی اشخاص له دندو ګوښه شوی دی او په ځای یې داسې اشخاص په کار ګمارل شوی دی چې د ورسپارل شوې دندې وړتیا نه لري. بې تجربه او غیر مسلکی کسان نه یوازې دا چې په خپلو دندو کې موفق نه دی بلکې په هغه اداره کې دخپلې پلوه ملګرو دزیاتوالی په خاطر یې دخپلې اداري کنترول او څارنه هم له لاسه ورکړی یا خو ورسره دجوال د خولې په نیولو کې شریك شوی دی.

ددولت بله کمزوری دکادرونو په استخدام کې داده چې زمونږ په هیواد کې ددې وروستیو لسیزو کې او په تیره بیا ددې څلورو کلونو په موده کې له کاره تقاعد شوی او په ذهنی لحاظ کمزوری اشخاص ددویم ځل لپاره بیا دارتباط پر بنسټ په کار ګمارل شوی او په ځای یې مسلکی او په کار پوه اشخاص له صحنې وتلی دی او داسې تقاعدی مقرر شوی او یا تقاعد په شرایطو برابر اشخاص تر خپل ځان پورته اشخاصو په غیږ کې نیولی چې د خلکو له انتقادونو او شکایتونو سره سره له دندو لیرې نه شول او دهمدې دلیل پر بنسټ نه د چا انتقادونه په پام کې نیولای شي او نه خپلې اداري دقانونیت خواته برابر ولی شي.

زمونږ په هیواد کې ددولت دکمزوری حرکت په وجه دقانون نه تطبیق دی چې دهر راز ګډوډی او اداري فسادونو درامنځته کولو لپاره یې نه یوازې دا چې زمینه برابره کړی ده بلکې زمونږ عوایدو کمښت او امنیت ته یې هم صدمه رسولې ده

۴مخ

افغانستان:
تضاد تحرک اجتماعی و ایستایی حاکمیت

خلیل رومان

- بدنبال حوادث گذشته و تحول های چهار سال اخیر، در اوضاع سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی افغانستان تغیرات قابل ملاحظه رونماشده است.

- تحرک اجتماعی با سازمان یابی منجمنت و اداره تناسب کیفی ندارد.

- با مسایل کهنه و انباشته شده و آنچه در حال تکوین است ، با میتود ها و فکر جدید بر خورد صورت نمیگیرد.

- در دموکراسی عاریتی جاری، مردم فکتور و عامل تعیین کننده نبوده بلکه برای بقا و تداوم حاکمیت های مایشایی وسیلهء بیش نیست.

-برخی از روشن فکران افغانستان با مشاهدهء زرق وبرق و امکانات فراهم شدهء مادی به توجیه گری های بی ماهیت مصروف اند و در مدار جاذبهء قدرت، رسالت ملی تاریخی شانرا نادیده می انگارند.

از چهارسال بدین سو امید مردم افغانستان برای فراهم آوری بهبودی در زندگی آنان- جا زده است. مردم که با تغییرات در آستانهء ادارهء موقت و کنار زدن حاکمیت طالبان مجال تنفس مجدد یافتند و برای تجدید حیات اجتماعی و اقتصادی خویش آمادگی های تبارز دادند، اکنون که چهار سال میگذرد ، سر خورده و روی گردان اند. به نظر میرسد که وعده های بلند بالا ازیکطرف وآنطرف و عدم توانایی بسر رساندن این وعیدها نوعی نگرانی و دلهره در میان آنان ایجاد کرده است.

مردم افغانستان با توجه به کوره راه ها وعقبه های دشوار گذار سی سال اخیر و تحمل جبرهای زمان و نظام های گذشته آبدیده و حساس گردیده اند. اندیشه و فکر امروز، اندیشه و فکر دیروز نیست. امروز سیاست به مفهوم عام خویش درب هر خانواده را میکوبد و هر کسی طبق میل خویش بنحوی ازانحا در سیاست داخل و شامل گردیده است. فکر میشود این یک دست آورد عظیم تاریخی و درس مهمیست که گذشت روزگار آنرا آموختانده باشد. در عین حال

سر خورد گی و بی تفاوتی نسبت به مدار وقرار هائیکه طبق یک سنت اجتماعی بین مردم ود ستگاه حاکمه تبیین می یابد، در رکود و سقوط و کناره گیری از فعالیت های اجتماعی نقش بارز دارد.

جامعهء امروزی ما بطور عموم به یمن روشنگری های متداوم و تجربه عملی روزگار، به سرحد تفکیک خوب از بد، خطا از ثواب ، وفا از جفا، درست از نادرست و صحیح ازغلط رسیده است. اگرچه هنوز هم برای روشنگری راه دراز باقیست وعده ای تلاش های هستریک دارند تا با شعارهای قوم گرایانه و سمت گرایانه از یمین و یسار شکنی را در روان اجتماعی افغانستان تحمیل نمایند. اما با و جودیکه این تلاش ها با تقسیم پول ها وامتیازات بلند درمقطع های معین همسویی موقتی ایجاد میکند، نمیتواند از آهنگ موزون وهارمونی حرکت در مسیر منافع ملی افغانستان بکاهد. زمان با صدای بلند، کوتاهی عمر تعاملات و معاملات سبک سرانه و قدرت طلبانه را اعلام نموده ومینماید.به این حساب دوران چلش زد و بندهای قوم گرایانه و برخورد های سمتی محلی برپایه تفوق طلبی از سالها ، ماه ها، هفته ها، روزها، ساعت ها، و لحظه ها نیز کمتر شده است. این تقلا ها با هر ترفند و آذین بندی که همراه گردد، خریدار و طرفدار معقول و منطقی ندارد.

بلا درنگ باید حساب بلی قربان گویان، مداحان و توجیه گران را که هر یک از حسن خدمت در دوره های مختلف در پی مزد جداگانه بوده اند، ازین امرمستثنی ساخت.

با این پیش در آمد میخواهم تصریح کنم که جامعهء امروزین افغانستان در پلکان اول دموکراسی، عدالت اجتماعی و اعمارو بازسازی مادی و معنوی پا گذاشته است. علی الرغم ادعاهای نا بجای بعضی ها ، مردم کشور در بسیاری عرصه های حیات اجتماعی از تدبر و تربیر ودوراندیشی برخوداراند و سررشتهء تنظیم سرنوشت شان را خوب میدانند. اما با تاسف ، حاکمیت های باد آورده و سوار بر تانک و توپ تجاوزونیرنگ ،کاربست عملی این شعورعالی را متوقف ساخته وبه تعویق افگنده است.

نقطه خط فاصل بین فرصت طلبان و آینده نگران ایجاد میشود.

انتخابات ریاست جمهوری و پارلمانی، ایجاد جامعهء مدنی، تمایل عمومی برای تطبیق قانونیت، احترام به حق شهروندی و یک سلسله تحولات دیگر طی چهار سال گذشته، با همه نواقص افق روشنی را در برابر آیندهء کشور باز نموده است. این دست آورد مردم غنیمت بزرگی درراه تجدید مراحل گذار تاریخی یک کشور واز آنجمله کشورما محسوب میشود.

اما آیا کار گذاران و مسئولان با آهنگ رشد اجتماعی د مسازو هماهنگ بوده اند؟

اگر جواب آری و مثبت است، چگونه و با چه طرزالعمل ها ومیکانیزم ها همراه اند و اگر منفی و نخیر باشد، چرا چنین است و علت های واقعی درچه هاست؟

سعی میورزم پاسخ اساسی و علل آنرا در سطور آینده مشخص سازم.

از نظر نگارنده ، پاسخ به سوال فوق منفی است. یعنی کارگذاران و مسئولان با آهنگ اجتماع نه تنها هماهنگ نیستند بلکه در بعضی حالات مخالف و متضاد با آن اند. چرا؟

اول: تفاوت دیدگاه ها و محرک ها:

جامعهء ما در آغاز آزمایش های زندگی نوین قرارگرفته است. این تحول از درون و عمق جامعه بحیث یک حرکت خود جوش متبارز نگردیده بلکه به عاربت گرفته شده است. در سبک و سنگین کردن وچند و چون آن تا زمان زیادی تقلید ها، فرمایشها ودیکتات ها نقش موثر دارد. در چنین حالات منابع قدرت سازاز اهمیت زیاد برخودار اند و پیوسته سخن اول را میگویند. بنابرین قدرت پرستان و تشنه گان حاکمیت، امکانات و فرصت های شان را در تقرب بسوی منابع قدرت ساز صرف مینمایند؛آستان بوسی میکنند و با هزار وسیلهء جایز و ناجایز برای اظهار خوش خدمتی با یکدیگر به مسابقه میپردازند. درست در همین چهار نعل به افغانستان شتافته اند و با اتکا به پیشتوانه های داخلی و خارجی، سفارش ها و سهمیه بندی ها، مقامات مهم ادارهء سیاسی، دیپلماتیک ، اداری و مالی کشور را بدون طی سلسله مراتب اداری، سابقهء ماموریت و خدمت به تصرف در آورده اند. پول سازی از مدرک معاشات دالری، رشوت و اختلاس برای تأمین ما بقی عمر در کشور های دومی هدف اول آنهاست. اگر امتیازات دالری که قشر مذکور برای خود ساخته اند، قطع گردد، فکر نمیشوداین عده با معاش و در آمد موازی با سایرین آرزوی ادامهء کار را داشته باشند. اینها و یا اکثریت شان حاضر نیستند، سرنوشت خودرا با سرنوشت مردم گره زنند و با غم و درد ملتی که سی سال تمام رنج کشیده اند، چنانکه در گذشته نساخته اند، بسازند.

خلاصه این که قدرت باد آورده و حاملان آن یکجا با فرصت طلبان راه کوتاه می پیمانند و در جستجوی منابع قدرت ساز شب روز می گذرانند.

برای آنان بسترسازی انکشاف تحول به خودجوشی و تحرک خودی، انگیزش مردمی وایجاد پایگاه ها ونهاد های اجتماعی و دستجمعی کار طاقت فرسا و زمان گیر به حساب میآید و چون برای فرصت کوتاه و با هدف معین دست بکار شده اند، از صرف تمام عمر درین راه انصراف بعمل میاورند. ادامه دارد

لانجيي لست: پاکستان ربنتيا وايي!

غلام جيلاني خواک

د پاکستان يو استخباراتي مقام د ايسوشيتيد پريس خبري اژانس ته ويلي دي د ترهګرو په هکله هغه لست او راپور چې دافغانستان لخوا پاکستان ته د ولسمشر کرزی د سفر په ترڅ کې ورکړل شوی، په هغه کې څه نوي مالومات نشته اوکره ندي په داسې حال کې چې افغان چارواکي دا مالومات کره او باوري ګڼي افغانستان چې هرکله په پاکستان کې د ترهګرو د روزنې د کمپونو او هلته د ترهګرو دشتون او فعاليت خبره کړی، پاکستان هغه په سپين ستر ګې رد کړي او غوښتنه يې کړي چې که په دې هکله کوم شواهد او اسناد چاسره وي نو مونږ ته دې وسپاري، څه موده دمخه په افغانستان کې د پاکستان سفير هم د طلوع تلويزيون سره په خپله مرکه کې د اخبره تکرارکړه او په دې هکله يې د اسنادو غوښتنه وکړه.

د افغانستان ولسمشر حامدکرزي پاکستان ته د خپل دري ورځنی سفر په ترڅ کې همداسې يولست پاکستان ته وسپاره، افغانستان د يوې بلې هڅې په توګه يو خل بيا پاکستان ته د وروری لاس ور اوږد کړ، او دا خبره يې وکړه چې په افغانستان کې سوله او سوکالی پخپله د پاکستان په ګټه هم ده. هيله کيده پاکستان دا خل له هوښياری کار واخلي او د افغانستان په هکله خپله زړه دوه مخې پاليسي بدله کړي پاکستان که په افغانستان کې د ترهګرو ملاتړ ته ادامه ورکړی نو دا خوسمه ده چې افغانستان به د يوشمير ستونزو سره مخ کړی خو ځرنګه چې ترهګری يواځې د افغانستان ستونزه نده، بلکې ترهګری او بنسټ پالنی ټوله نړی له ګوابن سره مخ کړی نو د پاکستان دا پاليسي کيدای شي بالاخره پاکستان د نړی له نقشی محوه کړي او په همدی خاطر دا د پاکستان په ګټه هم ده چې ترهګری او بنسټ پالنه له منځه لاړه شي، خو ښکاري داسی چې د پاکستان پنجابی واکمنان نه غواړي له هوښياری کار واخلي ښاغلي کرزي لادپاکستان په سفر وو چې مشرف او شوکت عزيز په خپلو ناسمو ځرګندونو او بيا دپاکستان دکورنيو چارو وزير آفتاب احمدخان شيرپاو د بلوچستان په پيښوکی د افغانستان په تورن کولو وښوده چې پاکستان نه غواړي افغانستان سره خپلی کړی ژمنی پرځای کړي او پرافغانستان په ناسمو تورونوهڅه کوي دترهګری پرضد جګړه کې ځان له د تيښتی لار پيداکړي.

د ترهګرو د لست په هکله هم همداسی وشوه، په پيل کې خو ځينی پاکستاني چارواکو دی خبری نه انکار کاوه چې ګواکی داسی کوم لست پاکستان ته سپارل شوی وی خو بيا چې دايی ومنله چې لست پاکستان ته سپارل شوی نو اوس د پاکستان استخبارات وايي لست او راپور کې کومه نوی خبره نشته پاکستان په دی توګه غواړی د هغو کسانو له نيونې او د ترهګرو د هغه روزنيز کمپونو له ترڅې نه ځان وژغوری کوم چې په دی لست کې يې په هکله مالومات ورکړل شوي، له همدی امله پاکستان اړ دی چې ووايي دا لست کوم نوی مالومات نه وړاندی کوی. که د پاکستان استخبارات ومنی چې په دی لست کې نوی مالومات شته نو بيا خو دهغه مکلفيت پرښتې چې دترهګری پرضد په جګړه کې د نړيوال ائتلاف سره يی لری پاکستان دی ته اړ کيږی چې په لست کې يادشوي کسان ونيسي او يادشوی کمپونه وتړي، اودا هغه کار دی چې پاکستان يې په هيڅ توګه کولو ته نه چمتو کيږي دمشرف او شوکت ځرګندونی، د شيرپاو تورونه او اوس د لست بی ګټی ګڼل ټول د پاکستان د هغه هڅی دي چې غواړي د افغانستان دکمزوری کولو او په افغانستان کې دترهګری او بنسټ پالنی نه دملاتړ پاليسي ته ادامه ورکړي البته د پاکستاني استخباراتو دا خبره رښتيا ده چې په دي لست کې د پاکستان استخباراتو ته کوم نوي مالومات ندي وړاندي شوي، دا سمه خبره ده پاکستان په دی توګه اعتراف کوي چې لاد مخه په دي هکله پوره او کره مالومات لري چې ترهګر چېرته اوسيږي، چېرته روزل کيږي او له کومو لارو افغانستان ته ننوځي، په حقيقت کې خودا ټولی اسانتياوی د پاکستان د استخباراتو لخوا ترهګرو اوبيا په تيره طالبانو ته برابريږي دا خو پخپله آيی ايس آيی ده چې په خپل پوځی کمپونو او تورو ځايو کې ترهګری روزی په وسلو سمبالوي يی او ورانکاری لپاره يی افغانستان ته راليږی. څه موده دمخه مولانا فضل الرحمن چې د آيی ايس آيی د طالبانو د پروژی يو عمده پلی کونکی دی، وويل چې د مانسهري په پوځي کمپونو کې ترهګر روزل کيږي او بيا د پوځ په مرسته افغانستان ته ليږل کيږي. د ترهګرو او بنسټ پالو په هکله پاکستان ه استخباراتي مالومات ورکول يو بی ځايه او بی ګټې کار دی دا مالومات خو هغوی بی لدی هم لری، د ترهګری په هکله د پاکستان لخوا د اسنادو اوشواهدو غوښتل او بيا دا شواهد او اسناد کره او باوري نه ګڼل يواځی د ترهګری پرضد لـه جګړې نـه د تيښتی لار ده. پاکستان په دی هکله هيڅکله هم له صداقت نه کار ندی اخستی او نه به يی هيڅکله واخلـــــــــي.

افغانستان بايد د پاکستان په وړاندی په خپلی ستراتيژی او سياستونو يوه جدي بيا ليدنه وکړي، پاکستان ته د دوستی او ورور ولی لاسو اوږدول نور ګټه نلري، پاکستان بايد دی ته اړ شي چې له ترهګری نه لاس واخلي، ټولی هغه لاری چاری بايد ولټول شي چې پاکستان دی ته اړ کړای شي ترڅو د ترهګرو ملاتړ خوشی کړي بايد نړی په دی پوه شی چې پاکستان د ترهګری اوبنسټ پالنی ترټولو حاصل خيزه کرونده ده، پاکستان د مذهبي کرکی يې او نفرت بر بنسټ جوړ شوی ، مذهبي کرکه او نفرت چې د بنسټ پالنی عمده محرک دی دپاکستان دوجود دليل دی . که مذهبي کرکه او نفرت له منځه لاړه شي نود پاکستان وجود هم ورسره له منځه ځي. نړی بايد پوره پاڼه ولري چې په پاکستان کې که يو سيکولر سياسي قوت هم واک ته ورسيږي هغه به بيا هم اړ وي چې د مذهبي بنسټ پالنی نه د يوی سياسي وسيلی او وسلی په توګه کار واخلي، پاکستان يراځی بايد په زور دی ته اړ کړای شي چې له ترهګری او بنسټ پالني نه لاس واخلي. پخپله خوښه پاکستان د اکار هيڅکله نه کوي، نړی بايد مخکی لدی چې ديوی بلی سترې غميزی سره مخ شي پدي هکله فکر وکړي.

د بیا رغاونی په لور

متصدی : سباوون

خومره چې یوه ټولنه پرمخ حی په هماغه اندازه یې په وراندې د اولس شوکالیو اونیمکرغیو زمینه برابریږي چې په خپل هیواد کې داسې سوکالیو ښته والی او بری لیدلای شو.

په هیواد کې دداسې بریو له جملې څخه یو هم دتیلفونی ارتباطاتو شته والی دی چې له هیواد څخه ورو ورو دیو کلی بڼه جوړیږي سره له دې چې په هیواد کې دروشن او افغان بیسیم دوه لوی شرکتونه رامنځته شوی دی دمخابراتو وزارت هم دهیوادوالو په وراندې د تیلفونی اسانتیاوو په رامنځته کولو کې سترګامونه پورته کړې دی. د مخابراتو وزارت په پام کې لرې چې دهیواد ۱۱۰ ولسوالیو کې دتیلفون انترنټ او فکس اسانتاوې برابرې کړی او دغه لړۍ به نور هم دوام وکړی چې نورې ولسوالی هم دارېکو ډیروزی دتطبیق په لړ کې دپکتیا ولایت د اریوب.سید کرم او زرمت ولسوالی دپکتیکاولایت د ارګون ولسوالی او د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالی دتیلیفون. فکس او انترنیت له لارې له ټول هیواد او بهر نړۍ سره ونښلول شوی.

په راتلونکې کې به دانترنت اسانتیاوې په ولسوالیو کې وونیو!

همدې ترڅ کې د ۱۳۸۴ لمریز کال دکب دمیاشتې پر لسمه دافغانستان دخلورونورو ولسوالیو دتیلیفون. فکس او انترنت سیستم دافغانستان دمخابراتو له وزیر انجنیر امیرزی "سنګن" سره دتیلفونی تماس په ترڅ کې فعال شو. دمخابراتودوزارت دولسوالیو دولسوالیو دارېکو پروژه دافغانستان دمخابراتو د وزارت له خوا تر سره کیږي چې په تطبیق سره به یې دافغانستان ټولې ۳۵۰ ولسوالی دتیلیفون. فکس او انترنیت له لارې دهیواد له نورو سیمو او بهرنی نړۍ سره ونښلول شي . دیادولو ور ده چې دراتلونکی ۱۳۸۵ لمریز کال په لومړۍ یوه نیمه میاشت کې به یادی شوی ۳۵۰ ولسوالی ټولی د فکس . فون او انترنیت اسانتیاوې تر لاسه کړي ددغې پروژې په تطبیق سره په هر ولسوالی کې ۲۰ لینه تیلیفونونه فعالیږي چې هم به دولتی اداری ورنه ګټه اخلی او هم به عام وګړی تري استفاده وکړی. له دې برسیره به محدود شمیر کمپیوټرونه چې له انترنیت سره وصل دی د هرې ولسوالی دمخابراتو په دفتر کې اینبودل کیږي چه عام وګړی او همدا راز دولتی کارکوونکی وکولای شی دانترنیت اسانتیاوو څخه ګټه واخلی خولا هم دهیوادوالو په وراندې چې ستر خنډونه پراته دی یوله هغه څخه اقتصادی ستونزده چې هیوادوال یې د هیواد په دې اوسنیو شرایطو کې دبیکاری له وجې زیاتې اقتصادی ستونزې لري خو دمخابراتو دوزارت . روشن شرکت او افغان بې سیم شرکت له لارې تیلفون کولو باندې زیاتې پیسې او تیکس راځی که څه هم دمخابراتو وزیر د ازاد بازار شته والی له املې تیکسونه سره کوم مخالفت نه لري باید ووایو چې ازاد بازار باید په دې مانا نه وی چې له کنټرول او څارنې پرته دهیوادوالو په ستونې چاره کیږدی او هر څه یې چې له لاسه کیږي او دهیوادوالو له ویې کړی او دهیوادوالو له مجبوریت څخه په استفاده خپلې پانګې زیاتې کړی.

توافق رسمی بر سر احداث خط لوله گاز ترکمنستان به پاکستان



سه دولت افغانستان، پاکستان و ترکمنستان موافقت رسمی خود را با احداث خط لوله ای که گاز ترکمنستان را از طریق خاک افغانستان به پاکستان منتقل خواهد کرد اعلام کرده اند

گفته می شود که هند نیز علاقه خود را به احداث این خط لوله ابراز کرده است

اعلام رسمی این خبر قدم بزرگی در جهت احداث این خط لوله گازی به شمار می آید و مصرف احداث این خط لوله هزار و پنجصد کیلومتری سه ونیم میلیارد دالر پیش بینی شده است.

دینشاد پتیل، وزیر امور نفت و گاز هند که به عنوان ناظر در نشست مقامات افغان و پاکستانی برای احداث این خط لوله حضور داشته، بر ضرورت شروع سریع احداث این خط لوله تاکید کرده است

هر سه کشور از این پروژه نفع خواهند برد

• ترکمنستان به بازار انرژی پاکستان راه خواهد یافت و از وابستگی خود به روسیه خواهد کاست

• پاکستان انرژی مورد نیاز خود را که در حال افزایش است تأمین خواهد کرد

• افغانستان میلیونها دالر از طریق عوارض عبور خط لوله از خاک این کشور کسب خواهد کرد.

سه دولت افغانستان، پاکستان و ترکمنستان بر سر مسائل کلیدی پروژه به توافق رسیده اند ولی باید سرمایه گذارانی بیابند که حاضر به سرمایه گذاری در این طرح عظیم باشند

د پانګو اچونو په وړاندې پراته خنډونه

په هیواد کې د سوداګرۍ او پانګه اچونې د ودې او پراختیا په اړه د هیواد په پنځو ښارونو کې د سوداګرۍ څه باندې ۳۰۰ شرکتونه د سروې له مخې جوړ شوی دی.

په هیواد کې د سوداګرۍ او پانګه اچونې د پراختیا لپاره یی مهم ګامونه بللی شو

د سویلي آسیا لپاره د نړیوال بانک یو چارواکی سید محمود په اداره کې دبډو او فساد شتون او سوداګرو ته د ځمکو نه ورکړه'، په یو شمیر هغو ستونزو کې بولي چې په خبره یې په هیواد کې سوداګري او پانګه اچونه له خنډ او ځنډ سره مخامخ کوي.

«په ډیرو ستونزو کې یوه هم د برېښنا نه



شتون ده. لومړی خو برېښنا ته لاس رسی ګران دی، خو که دغه کار وشي هم د برېښنا بهیر ډیر ګډوډ دی او دوامداري پر چوی لري ځمکه د پانګه اچونې په وړاندې بله ستونزه ده چې سوداګر او پانګه وال یې د نه شتون سره لاس او ګریوان دي په اداره کې د بډو او فساد شتون هم د پانګه والو چارې له ځمکې نه ورکړه، په تیرو څلورو کلونو کې د خو پر دغو ستونزو سر بیره ، ښاغلی محمود بې امنیتي هم د پانګونې په وړاندې جدي خنډ بولي او وایي تر هغې چې د پانګه والو امنیت خوندي نه شي ، په وینا یې چې افغانستان کې به پانګونې ته زړه ښه نه کړي.

د افغانستان د ولسي جرګې غړي او د سوداګرۍ پخوانی وزیر سید مصطفی کاظمي هم پانګه والو ته د ځمکې نه ورکړه ، په تیرو څلورو کلونو کې د پانګې اچونې په وړاندې د پانګو د لګښتونو زیاتوالی بللی دی.

د سوداګرۍ وزیر امین ارسلا د سوداګرۍ او پانګه اچونې په وړاندې د ستونزو د شتون پخلی کوي او ټینګار لري چې د ځمکې په ګډون به دغه ستونزې د سوداګرۍ د پنځه کلنې تګلارې د پلي کیدو په ترڅ کې اواري شي

«ښکاره ده چې ځمکه د کرنې او مالداری په وزارت پورې تړلې ده چې موږ یې په تړاو خبرې کوو . دا رنګه له حکومت سره هم بحث کوو چې پانګه والو ته د ځمکې د ویش په وړاندې شته خنډونه لیرې کړو.»

یو شمیر بهرنیو پانګه والو د لنډ ن د کنفرانس په څنډه کې ولسمشر حامد کرزي ته هم د ځمکې ستونزه یاده کړې وه او غوښتي یې وو چې بهرنیو پانګه والو په واک کې د ځمکو ورکولو وخت هم له ۵۰ کلونو څخه ډیر کړي

ښاغلي کرزي له هغوی سره وعده وکړه چې شخصآ خپله به د پانګه والو دا او نورې ستونزې اواري کړي

استخراج غیرفنی؛ تلفات بیشتر

معادن ذغال سنگ کشور که بخش عمده آن در شمال قرار دارد، از خطرناکترین معادن در جهان به شمار می رود

مهندس محمد افضل عمری، رییس عمومی معادن ذغال سنگ در شمال می گوید سالانه صدها نفر در جریان کار در این معادن در اثر انفجارها جان می دهند

برآوردها نشان می دهد که در مناطق شمالی دست کم یازده معدن وجود دارد که به دلیل بهره برداری غیرفنی از آن، خطر تلفات جانی در آنها، همچنان موجود است.

معدن ذغال سنگ 'کرکر' که از بزرگترین معادن ذغال سنگ در کشور به شمار می رود، در ولایت شمالی بغلان موقعیت دارد

در اثر دو انفجار جداگانه در سالهای ۱۳۴۰ و ۱۳۶۰ خورشیدی در معدن ذغال سنگ کرکر، ۱۴۰ نفر جان دادند.

از آن پس از تجهیزات روسی برای بهره برداری از این معادن استفاده می شد و تا حدودی از خطرات احتمالی آن کاسته بود، ولی در جریان جنگ های داخلی ، معادن ذغال سنگ از یک سو مورد استفاده بی رویه قرار گرفت و از سوی دیگر، تجهیزات کاری برای استخراج ذغال سنگ از این معادن تاراج شد.

یا زه نه وای یا زه ...

محمد زبیر شفیقی

خدمت ته راغلی یاران!!
په دې ورځو کې په کابل کې بیروبار زیات دی، په عام بازار او کوڅه کې خوهر وخت همدغه حال دی خو زما مطلب دلته دکابل دلوکسو میلمستونونو اوهوټلونو څخه دی. اتو کړی یاران دی چې په ساټ او باټ کې پکې ښکته او پورته کیږي. دغه یاران زیاتره مسافر دی او دپیښوریانو په وینا له اوو سمندرونو پورې غاړې نه یې تشریف راوړی دی. زما دیوه باخبره انډیوال خبره دا یاران خدمت! ته راغلی دی.
ما ته له دې سره یو ځو کاله پخوانی خاطره را یاده شوه هغه مهال زه په سروبی کې وم یوه ورځ مو ولیدل چې دجلال آباد لاره زنځیر ده، دلوکسو پیجاروګانو او پیکپ ډاټسنو یو کتار و چې سترګې یې بریښولې، اتو کړی سپین خولی یاران پکې ناست وو چې دعطرو وړې یې دچاخبره دوه کیلو متره وړاندې تلې هغه مهال هم یاران خدمت ! ته را روان وو. کیسه یوه ده، لوبه یوه ده ، یوازې لوبغاړی اوخدمت ته کاندید ښاغلی بدل دی.

هغه مهال دجلا آباد ترون شوی و ، نوې کابینه جوړیده، وزیران او معینان غوره کیدل اوله پیښور نه خدمت ته حاضر یاران او دوطن په غم! او درد ځوریدلی را مات وو چې د خپل وطن خدمت! وکړی. نن هم پارلمان جوړ شوی کابینه ښایی نوې شي، د خدمت!! مقامونه به ویشل کیږي، ځکه خو یارانو آن له امریکا او اروپا نه ځانونه را رسولې دی.

ماته ښه رایاد شي دهغه پخوانی وخت کوم یاران چې دخدمت لپاره داوطلب راغلی وو اوس زیاتره په اروپا او امریکا کې دی دغینو یې ښایی نومونه له اولس نه هیر وی همدغسې د غه لوبه یو ځل نه په ځلورځله تکرار شوې ده چې کوم یاران د خدمت !! له لست نه پاتې شوی دی هغوی بیا پر دې وطن شپه نه ده تیره کړې له دې نه ښکاری چې خدمت! نو یوازې د حکومت ډلوړ پورو کرسیو په چوکاټ کې کیدای شی او بس.

له وطن سره دمینې، خوا خوږی او ... کیسې نور د کتابونو خبرې دی، عملاً یې مصداق موندل د مرغه پی دی دجمهوریت یوه ګټه خو دا هم ده چې موده یې لنډه ده . له نویوټاکنو سره دکابینې او نورو تشکیلاتو لپاره زموږ مسافر یاران دوطن د یدن ته قدمونه رانجه کوی، ښه دی چې دوی ته هم دلته یو رابنکون شته که نه وای بیا نو را روان او په سل او زر لاړو لوټ شوی وطن او دغه اتو کړی دنیکټایی خاوندان ډیر سره لري وو.

خواستار جلوگیری از ...

گفته میشود که امیرزی با پرویز مشرف نیز دیدار خواهد نمود تا مسایل را که در جریان سفر آقای بوش به پاکستان در باره آن بحث صورت گرفته است مورد تاکید قرار دهد شوکت عزیز صدر اعظم پاکستان در مصاحبه بانشریه دیلی تایمز پاکستان گفته است دولت افغانستان کوشش بیشتری بخرچ د هند تا از قاچاق مواد مخدر ورود اسلحه و عناصر هراس افگن به پاکستان جلوگیری نمایند. شوکت عزیز صدراعظم پاکستان در سفرش به لندن دیروز گفت همکاری میان دو دولت برای دریافت مخفی گاه های هراس افگنان در مرز دو کشور یگانه راه حل این مشکل خواهد بود. تسلیم اسلم سخنگوی وزارت خارجه پاکستان میگوید ۸۰ هزار نیرو در مرز با افغانستان تعهد ما را در مبارزه با هراس افگنان ثابت ساخته است وی گفت که افغانستان میتواند به جای اتهامات همکاری خودش را به پاکستان در مبارزه با هراس افگنی نشان دهد در همین حال ظاهر عظیمی سخنگوی وزارت دفاع میگوید افغانستان در وضعیتی نیست که بتواند به کشور های دیگر مداخله نماید واین خلاف سیاست و پالیسی ماست.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي...

دروان میلادی کال په ورستیو کې به ماموریت پای ته ورسیږي. او نوی سرمنشی به د ۲۰۰۷ میلادی کال په لومړۍ نیټه په خپل کار پیل وکړی د ۲۰۰۶ میلادی کال په وروستیو کې به دملګرو ملتونو دسرمنشی کوفی عنان لس کلن ماموریت ته دپای ټکی کیښودل شي او نوی سرمنشی به په خپله چارو پیل وکړی ویل کیږي چې دغې څوکۍ ته تر دې دمه پنځو تنو خپله ځانونه نومولې چې دامریکا ته دمتحده ایالاتو پخوانی ولسمشر بل کلنټن او دکابل پوهنتون رئیس داکتر اشرف غنی احمد زی چې نومونه یې په سر کې دی دغه راز ویل کیږي چې دختیځ تیمور له تاپو کوریا او فلسطین څخه هم دغې څوکۍ ته یو یو کاندید ولاړ دی خو داکتر اشرف غنی احمد زی لومړنی افغان دی چې په نړیواله کچه دیوې لوړې څوکۍ په ګټلو کې سیالی کوی داکتر اشرف غنی احمد زی چې اوس مهال دکابل پوهنتون رئیس دی وړاندې تر دې یې د افغانستان دمالیې د وزیر په توګه هم دنده ترسره کړی ده دغه راز یې داقتصاد او سیاست په ډګرونو کې خپله زده کړې تر داکټرۍ پورې رسولی دی د ملګرو ملتونو د سرمنشی د تاکل کیدو لپاره دامنیت دشورا غړې هیوادونه د خپلې خوښې کاندید ته رایه ورکوی دا چې دراتلونکو پنځو کلونو لپاره به څوک دغه څوکۍ ته غوره کړی شي راتلونکی او ځواب یې.

کمپاین وسیع به ...

عملیات تخریب کشتزار های کوکنار را در منطقه دهسو ولایت جنوبی هلمند آغاز کرد هلمند یکی از ولایت های عمده تولید تریاک در کشور است این کمپاین دو روز پس از آن به راه انداخته شد که مقامات افغان وسازمان ملل متحد هوشدار داده اند که باوجود تلاش های بین المللی انتظار میرود در سال جاری کشت کوکنار در افغانستان افزایش یابد.

له ولسي جرګې....

دوی چې دبی وسلې کولو یا دی دی آر په ترڅ کې خپلې دندې له لاسه ورکړی خبریالانو ته وویل چې تر هغې به لازیون ته دوام ورکوو چې دولت ورته کار پیدا کړی.

تسلیمدهی ...

تلکی همراه با مقداری از مرمی های دهشکه وبطری شارت دهنده را قوماندانان مربوط به ولسوالی های جلریز، نرخ و مرکز بهسود به برنامه دایاک تسلیم نمود. خبر می افزاید قوماندانان متذکره در تامین امنیت هر چه بیشتر وعده هر گونه همکاری را سپردند.

مسلکی اشخاص خولاڅه چې ...

تر دیره خایه دا ګوتنیولې ومنو چې زموږ مسولین دخپلې ادارو په دننه کې خبرتیا نه لري او خپلې کمزوری نشی درک کولای او تر هغه چې دغه نواقص رفع نشي موږ دبری امن او سوکالی څرک نه شو لیدلای.

دداسې انتقادونو په سر کې ګوته ولسمشر کرزی ته نیول شوې ده چې نومورې تر اوسه پورې له خپلو ژمنو سره سره په خپلو کارونو جدی نشو نه یې مسلکی اشخاص په کارونو وګمارل نه یې قانونیت رامنځته کړ او نه یې تقاعدي او له ذهن څخه کمزوری اشخاص او یا د تقاعد په شرایطو برابر چې په هیڅ وجه دکارکولو جوګه نه دی له دندو ګوښه کړل او تر هغه چې داولس انتقادونه سر ته ونه رسیږي خپلې ژمنې تطبیق کړی په کار کې به یو ناکامه او دولس له باور څخه به بې برخې وی.

دو باب مکتب ...

که دیشب نیز ولایت دایکندی وبدخشان شاهد سوختاندن مکاتب بود به گفته عبدالحمید والی ولایت بدخشان این مکتب دیشب به ساعت ۷ شب توسط دشمنان صلح و ثبات افغانستان به آتش کشیده شد.
این در حالیست که دیشب نیز در ولسوالی گیهزاب ولایت دایکندی در اثر درگیری که میان گروه طالبان و پولیس آن ولسوالی صورت گرفت یک مکتب به آتش کشیده شد هم چنان حامد کرزی رئیس جمهور کشور دیروز در محفل که بمناسبت ۸ مارچ روز جهانی زن در خیمه لویه جرگه برگزار گردیده بود حملات به مکاتب را محکوم نمود.

نامه وارده

بگیرش که نگیریت

به ادامه محترم روزنامه اراده!
با عرض سلام واحترامات بی پایان وتمنای موفقیت شما در امورات محوله امید مضمون بنده را بچاپ رسانیده ممنون سازید.
طوریکه هموطنان ما آگاهی دارند اخیرا رئیس جمهور کشور در راس هیت بلند پایه کشور ما بازدید رسمی از پاکستان داشتند و روی علایق دو جانبه بارئیس جمهور و صدراعظم آنکشور گفتگو نموده است ضمن ملاقات ها رئیس جمهور کشور ما به ارتباط موجودیت عناصر مخالف دولت افغانستان در خاک پاکستان وسهیم بودن تعداد از اتباع آنکشور در حملات تروریستی و انتحاری توجه جانب پاکستان را معطوف داشتند رهبران پاکستان بدون اینکه به این خواست بر حق رئیس جمهور کشور ما که در حقیقت خواست ملت افغان می باشد عطف توجه نماید بر عکس با ارایه اسناد خود ساخته و جعلی جانب افغانستان را به ایجاد شرایط مداخله هند در امور داخلی پاکستان متهم ساخته و اظهار داشته است که تعدادی از اعضای سازمان مخفی هندوستان با استفاده از خاک افغانستان در مسایل پیش آمده بلوچستان سهیم بوده اند اظهارات مشرف همان ضرب المثل بزرگان را به یاد ما می آورد که چه خوب گفته اند: (بگیریش که نگیریت)
مشرف می خواهد با این اظهارات بی بنیاد خود توجه ملت پاکستان وجهان را از مداخلات آشکار کشور ش در امور داخلی افغانستان به دور نگهداشته و به این مداخلات به گونه ای عمل با المثل را نشان دهد در حالیکه مردم پاکستان و جهانیان خوب میدانند که حکومت و ملت افغانستان نسبت مشکلات که طی سه دهه جنگ متحمل شده اند اصلا از جنگ نفرت داشته وهیچ گاهی باعث بی ثباتی اوضاع کشور همسایه شان نه گردیده اند و از رهبران پاکستان نیز می خواهد که با ارائیه اسناد جعلی که از دلالان سیاست بدست آورده اند موقف صلح جویانه مردم و دولت افغانستان را خدشه دار نسازند زیرا بزرگان گفته اند که آفتاب به دو انگشت پنهان نمی گردد.

با احترام
سید حسین اصغری
محصل پوهنتون کابل

ERADA Daily
زیر نظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یك شماره ۳ افغانی